آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۶/۰۴

# «کله به لیده شي د خوشال د زړه څراغه»

## خوشال پوهنه

## اشعار

## ۱۲

د خوشال په آثارو کې، په تیره منظومو تخلیقاتو کې هر ډول نظریات او افکار موندل کیږي.، کله، کله د شعر په ژبه داسي فلسفي افکار په یوه اوږده شعر کې، بلکې په یوه بیت کې سره ځای کړي، چي کیدای شي مقالي او رسالي او کتابونه پرې ولیکل شي.

زه خیله د خوشال پوهني د لارې د یو لاروي په توګه ډیر ځلي دا پوښتنه مخې ته ږدم چي ده څومره وخت او حوصله درلوده چي له دومره ډیر نظامي اخ و ډب، قومي ستونزو او د یوي ستري کورنی د اداره کولو تر څنګ یي بیا د فلسفي مسایلو او میني په باب هم فکر کولای شو او بنه په دقت سره یي ډیر څه سنجولي او په ځای هم تر سره کول او لیکل.

کله چي استاد پوهاند ډوکتور بهاالدین مجروح وروسته له اژدهای خودي نه «ځانځاني ښامار» په ۱۳۵۶ کال کې خپور کړ او ما ته په همغه کال په لاس راغی، هلته مي ولیدل چي په ځینو برخو کې یي د خوشال له ځینو داسي فلسفي شاه بیتونو نه استفاده کړې ده، چي همغه یو بیت د یوه کتاب په اندازه مفهوم او مطلب افاده کولای شي. مجروح د «ځانځاني ښامار» له پیل نه مخکي د خوشال دا دوه شاه بیتونه را اخیستي دي:

**راشــه وګــوره نــن دا طــراز زمــا**
**حـقـیـقـت ســره قـریـن مـجـاز زمــا**

**درست عالم مي په بازار په کوڅه وایي**
**لا وچـه تــه ښکاره نــه دی راز زمــا**

او مجروم د «ښامار» د یوه لوی ښار (چي وروسته په کنډواله بدلیږي) د داستان په پیل کې د خوشال دا فلسفي شاه بیت را اخیستی دی:

**چیرته پسي درومم، په کوم لوري به یي مومم**
**ورکـه مونده نـه شي بی رهبره، بي سراغـه**

اوس هم دا زما له پاره معما ده چي خوشال په یوه وخت کې څنګه «رزم» او «بزم» دواړه په بریالیتوب سره پرمخ وړل، څنګه یي دومره ستر کارونو تر سره کول؟

د خوشال پوهني په دولسمه برخه کې د خوشال یو لنډ شعر وړاندي کوم چي د ده د فلسفي افکارو یوه وړه، خو ژوره بیلګه په کې لیدلای شئ:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

نه شته هسې سر چې به خالي وي له دماغه
كوم دى هغه زړه چې به روغ پاتې وي له داغه

چيرته پسې درومم، په كوم لوري به يې مومم
وركه مونده نه شي بې رهبره، بې سراغه

مست يم، مى پرست يم، هميشه اياغ په دست يم
يو ساعت چې ځي، رابانديې غم دى بې اياغه

باغ دې د هغو دى، په هر چا چې دې پيرزو دى
زه په ارمان تل د يوه گل يم ستا له باغه

گل د عندليب دى، په قسمت دى، په نصيب دى
درومه، درومه، درومه په جيفه گرځه كلاغه

تل هوا، هوس كړه، تر اوله يو په لس كړه
ستا له غمه څه دي، كه زه لاړم له فراغه

ورځ ور باندې شپه ده،په تور تم كې يې ميشته ده
كله به ليده شي د خوشال د زړه څراغه

(د خوشال كليات، د زاهد مشوانې اوډنه، د ۲۰۰۵ كال چاپ، ۱۴۶ ام مخ)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولئ